# جريده میــــزان

د سترې محکمې کاري څرګندويه خپرونه

قـوه قضائیه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۲۸ لیندۍ ۱۴۰۱ هـ ش | ۲۵ جمادی الاول ۱۴۴۴ هـ ق | ۱۹ دسمبر ۲۰۲۲ م | مسلسله شمېره (۲۳)


**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي، نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کيده.

تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## فراه ولايت کې پر يوه قاتل د قصاص الهي حکم تطبيق شو

چهارشنبه (۱۴۴۴/۵/۱۴ هـ ق) نېټه د فراه ولايت په مرکز کې پر يوه قاتل د قصاص الهي حکم تطبيق کړل شو.

د تاجمير په نوم دغه قاتل د غلام سرور زوی او د هرات ولايت د انجيل ولسوالۍ د جلوارچه کلي اوسېدونکی و.

نوموړي د ۱۴۳۹ هـ ق کال د لومړۍ مياشتې په ۲۱مه نېټه مصطفی د عبدالرحمن زوی چې د فراه ولايت د پشت کوه ولسوالۍ د ګنک کلي اوسېدونکی و په ډېر ظلم د چاقو په وسيله وژلی و، د هغه موټر سايکل او ټلیفون يې له ځان سره وړي وو.

دغه موضوع د افغانستان اسلامي امارت محاکمو ته له راجع کېدو وروسته، د اسلامي امارت د درې ګونو محاکمو (ابتدائيه، استيناف او تميز) لخوا په خورا دقيق او مکرر ډول وڅېړل شوه، چې د هرې محکمې لخوا پرې د قصاص حکم صادر او تائيد شو.

وروسته دغه حکم د اسلامي امارت د زعيم عاليقدر اميرالمؤمنين شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله حضور ته د تائيد لپاره وړاندې شو.

د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله لخوا هم د دې موضوع په اړه د وروستي احتياط په منظور فوق العاده څېړنه وشوه او د علماء کرامو سره په يوه ستره مجموعه کې پرې هر اړخيز بحث وشو چې په پای کې يې پر قاتل د قصاص شرعي حکم د تطبيق امر وکړ.

د دغه حکم د تطبيق لپاره د هيواد سترې محکمې ته هدايت وشو چې د قصاص دغه حکم بايد چهارشنبه د ۱۴۴۴ هجري قمري کال د جمادي الاولی د مياشتې په ۱۴مه نېټه د فراه ولايت په مرکز کې د هيوادوالو په يوه مجموعه کې تطبيق کړي.

په هغه غونډه کې چې په همدې مناسبت جوړه شوې وه، د سترې محکمې رئيس او قاضي القضاة محترم شيخ الحديث مولوي عبدالحکيم حقاني، د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر، د سترې محکمې قضائي مرستيال او

پاتې برخه ۲

## د سترې محکمې متحدالمآلونه

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۲**
**نېټه: ۱۴۴۴/۴/۲۷ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۴/۲۱هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د عقرب مياشتې د څلور ويشتمي (۲۴) نيټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضاة محترم الشيخ عبدالحکيم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د ياد مجلس لومړی موضوع داسې وه:

((د تميز عالي رياست محترم رئيس صاحب او د ټولو ولايتونو د استيناف او ښهري محکمو رئيسانو صاحبانو ته که د مربوطه ديوانونو د موضوعاتو د حل او فصل په موخه د هر ديوان لپاره مشخصه ورځ تعين سي څرنګه به وي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د تصويب نمبر(۱۴) مورخ ۱۴۴۴/۴/۲۱هـ ق د لومړۍ پريکړې په اساس داسې هدايت وکړ: ((د تميز عالي رياست محترم رئيس، د استيناف رئيس، د ښهري رئيس او په مرکز کې د زون رئيس دې په هره هفته کې دې د شنبې او يک شنبې په ورځو د مدني ديوان سره د مدني ديوان پر موضوعاتو کار وکړي، د دو شنبې په ورځ دې د نظامي ديوان سره د نظامي ديوان پر موضوعاتو کار وکړي، د سه شنبې په ورځ دې د تجارتي ديوان سره د تجارتي ديوان پر موضوعاتو کار وکړي، د چهار شنبې په ورځ دې د امنيت عامه ديوان سره د امنيت عامه ديوان پر موضوعاتو کار وکړي، د پنج شنبې په ورځ دې د جزاء ديوان سره د جزاء ديوان پر موضوعاتو کار وکړي.

په کوم ځاي کي چي د پورته ذکر شوي ديوانونو څخه کوم ديوان نه وي، يا ديوان وي خو کار يې کم وي په هغه ورځ دې ياد رئيس په هغه ديوان کي کار وکړي چي کارونه يې ډير وي.

د ياد رئيسانو څخه هر رئيس دې د هفتي هره کاري ورځ تر لسو بجو د خپل رياست اړوند کارونه تر سره کړي پر لسو بجو دې د پورته ترتيب مطابق مربوطه ديوان ته تشريف يوسي او د مربوطه ديوان پر قضاياوو دې کار وکړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۳۳**
**نېټه: ۱۴۴۴/۴/۲۸ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۴/۲۱هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د عقرب مياشتې د پنځه ويشتمي (۲۵) نيټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضاة محترم الشيخ عبدالحکيم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د ياد مجلس څلورمه موضوع داسې وه:

((د افغانستان اسلامي امارت په محاکمو کي د کارونو د ښه تنظيم لپاره د سترې محکمې د معاونيت لخوا د پلان او پالسۍ رياست لخوا همدارنګه د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست لخوا د اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام هدايات او د سترې محکمې د عالي شورا هدايات په متحدالمآل شکل ټولو محکمو ته استول کيږي او ددغه متحدالمآلونو په عملي کولو سره تر ډيره حده مشکل حل دی، د دغه متحدالمآلونو د تعقيب په باره کي چي څرنګه ترتيب وشي؟))

د سترې محکمې عالي شورا د ذکر شوي موضوع په اړه د تصويب نمبر(۱۴) مورخ ۱۴۴۴/۴/۲۱هـ ق د څلورمي پريکړې په اساس داسې هدايت وکړ: ((د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست ته دنده سپارل کيږي تر څو د محاکمو متعلق د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام هدايات، د سترې محکمې د محترم مقام هدايات، د سترې محکمې د معاونيتونو هدايات، د سترې محکمې د عالي شورا هدايات او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست او نورو رياستونو تر دا وخته صادر شوي متحدالمآلونه دي په يوه يوه وګوري او جدي دي تعقيب کړي چي عملي سوي دي او که نه.

په راروان وخت کي دي پورته ذکر شوي هدايات او متحدالمآلونه د صدور سره سم تعقيب کړي د عملي کيدلو او نه عملي کيدلو مواضع او علل دي معلوم کړي او وخت په وخت دي راپور د خپل نظر سره يو ځای د سترې محکمې د محترم مقام سره شريک کړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

**د متحدالمآل ګڼه: ۳٤**
**نېټه: ۱۴۴۴/۴/۲۹ هـ ق**

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: په تاريخ ۱۴۴۴/۴/۲۱هـ ق چې د ۱۴۰۱ هجري لمريز کال د عقرب مياشتې د پنځه ويشتمي (۲۵) نيټې سره سمون خوري، د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئيس او قاضي القضاة محترم الشيخ عبدالحکيم «الحقاني» صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا غونډه دائره شوه چې د ياد مجلس دوهمه موضوع داسې وه:

((د کابل ولايت په مرکز کي د نشه ئي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمه فعاله ده، آيا دغه محکمه يواځي د کابل ولايت د مخدره توکو اړوند موضوعات بررسي کړي او که د ټولو ولايتونو د مخدره توکو اړوند موضوعاتو د بررسۍ صلاحيت لري؟))

د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي موضوع په اړه د تصويب نمبر(۱۴) مورخ ۱۴۴۴/۴/۲۱هـ ق د دوهمي پريکړې په اساس داسې هدايت وکړ: ((په مرکز کابل کي د نشه ئي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمه يواځي د کابل ولايت د مخدره توکو د موضوعاتو د حل او فصل صلاحيت لري.

په نورو ولايتونو کي د مخدره توکو د موضوعاتو د حل او فصل صلاحيت د اړونده ولايت د ښهري محکمې د امنيت عامه ديوان سره دی، البته په مرکز کابل کي دې د زونونو امنيت عامه ديوان ياد موضوعات نه اخلي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د عالي شورا پورته تحرير شوی هدايت د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

پاتې برخه ٤

**اسلامي حکومت**

**پنځمه برخه**

۶. د قوانينو د پلي کېدو ښارنه کول: په اسلامي حکومت کې به ځينې داسې وګړي وي چې د قوانينو د پلي کېدو ښارنه به کوي، د خلکو ستونزو ته به لاس رسی کوي او د دوی د مشکلاتو حللاره به راباسي. الله تعالی فرمايي:

ژباړه: ((په تاسې کې بايد څه خلک هرو مرو داسې وي چې د نېکۍ لوري ته بلنه وکړي، په ښو امر وکړي او له بدو منعه وکړي، کوم خلک چې دا کار وکړي هماغوی به بريالي شي.))

اخذليک: تتمة النظام، ۱۶ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن: مولوي عبدالرحيم راشد

## فراه ولایت کې پر یوه قاتل...

د جنوب غرب زون د تمیز رئیس شیخ الحدیث مولوي سردارمحمد، د سترې محکمې نظامي مرستیال شیخ الحدیث مولوي خیرخواه، د هیواد د کورنیو چارو وزیر محترم خلیفه صاحب سراج الدین حقاني، د امربالمعروف او نهی عن المنکر وزیر محترم شیخ الحدیث مولوي محمد خالد حنفي، د عدلیې وزیر محترم شیخ الحدیث مولوي عبدالحکیم شرعي، د بهرنیو چارو وزیر محترم مولوي امیرخان متقي، د معارف وزیر محترم شیخ الحدیث مولوي حبیب الله اغا ، د سترې محکمې د دارالافتاء رئیس شیخ الحدیث عزیزالله مظهري، د اسلامي امارت ویاند ذبیح الله مجاهد، دکندهار د علماؤو د شورا رئیس شیخ الحدیث مولوي ملوک شاه، د کندهار د تمیز د جزا د دیوان رئیس شیخ الحدیث مولوي عبدالرحمن، دکندهار د جهادي مدرسې د حدیثو استاد شیخ الحدیث مولوي حبیب الله، د هرات والي شیخ مولوي نوراحمد اسلام جار، د فراه مرستیال والي مولوي عبدالکریم جهادیار، د امیرالمؤمنین حفظه الله د دفتر مسؤول مولوي عبدالحکیم، د امیرالمؤمنین حفظه الله د فرامینو د څار د دفتر مسؤول مولوي احمد جان بلال، د کندهار والي الحاج ملا محمدیوسف وفا، دکندهار د هوایي ډګر عمومي مسؤول الحاج مولوي فتح الله منصور او د اسلامي امارت ګڼ شمېر نورو مسؤولینو هم برخه اخیستې وه.

غونډه په هیواد کې د سرتاسري امنیت د لا ټینګښت، د خلکو شرعي حقوقو ته د لا رسېدا او د اسلامي شریعت د لا ښه تطبیق لپاره په دعاء او د مقتول د وارثینو لخوا د قاتل په وژنه او په دې اړوند د الله تعالی د ستر حکم قصاص په تطبیق پای ته ورسېده.

## د سترې محکمې د اداري معاون په مشرۍ د چارو د څېکتیا په موخه اداري ناسته ترسره شوه

سه شنبه (۱۴۴۴/۵/۱۲ هـ ق) نېټه د سترې محکمې د اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب په مشرۍ د چارو د لا ښه تنظیم او مدیریت او په چارو کې د شفافیت رامنځته کولو په موخه اداري ناسته ترسره شوه.

په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د اداري معاونیت په دفتر کې جوړه شوې وه، د سترې محکمې د مقام د دفتر رئیس، د بشري سرچینو عمومي ریاست سرپرست، د مالي او اداري چارو عمومي رئیس، د استخدام رئیس، د اداري چارو رئیس، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو سرپرست رئیس، د مالي او حسابي چارو رئیس او نورو اړوند مسؤولینو ګډون درلود.

یاده اداري ناسته د سترې محکمې د اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) په تفصیلي خبرو پیل شوه.

د سترې محکمې اداري معاون محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب د اداري چارو د ارزښت او اهمیت په اړه د خپلو خبرو په جریان کې وویل، د یوه ارګان یا اداري د بریالتوب لپاره په ښه او مناسب ډول د اداري چارو ترسره کېدل لازمي او ضروري دي.

محترم حقاني صاحب د سترې محکمې د مسؤولینو او منسوبینو ترمنځ پر همکارۍ ټینګار وکړ.

ورپسې د ناستې ګډونوالو د غونډې په اجنداء کې د شاملو موضوعاتو په اړه خپل نظرونه او وړاندیزونه شریک کړل.

یاده اداري ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## جلسهٔ خاص شورای هماهنگی ارگان‌های عدلی و قضائی ولایت کندز تدویر یافت

به تاریخ ۱٤٤٤/٥/۱۱هـ ق جلسهٔ ویژهٔ شورای هماهنگی ارگان‌های عدلی و قضائی تحت ریاست مولوی نورمحمد (نوری) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت کندز به اشتراک جناب محترم مولوی حبیب الرحمن (صهیب) معاون مقام ولایت کندز، محترم قاری بختیار (معاذ) قوماندان امنیه، محترم قاری عبدالحلیم رئیس څارنوالی استیناف کندز، مولوی عزیزالله (سعیدی) رئیس عدلیه ، مولوی محمد انور (بشیر) رئیس زندان، مولوی عبدالغفار نمایندهٔ ریاست زراعت، مالداری و آبیاری، مولوی عبدالغفار (ریان) رئیس دیوان جزا عمومی استیناف، مولوی عبدالرحمن مفتی دیوان مدنی استیناف، مولوی قطب الدین مفتی دیوان تجارتی استیناف، مولوی حبیب الله (مسلمیار) رئیس دیوان امنیت عامه استیناف، مولوی سردارولی (مهاجر) رئیس محکمهٔ ابتدائیه شهری و مولوی محمد نسیم مفتی ریاست محکمهٔ ابتدائیه منسوبین نظامی زون کندز و سایر نماینده‌گان ارگان‌های عدلی و قضائی در دفتر کاری ریاست عمومی محکمه استیناف غرض رفع چالش‌ها و مشکلات که سد راه ادارات عدلی و قضائی قرار میگیرد، دایر گردید.

نخست جلسه با تلاوت آیات چندی از قرآن عظیم الشان توسط یک تن از اشتراک کننده‌گان آغاز شد؛ سپس محترم نوری صاحب رئیس عمومی محکمهٔ استیناف کندز طی سخنان همه جانبه شان جلسه را افتتاح نمود.

موصوف در رابطه به اهمیت جلسه گفت که جلسهٔ شورای هماهنگی ارگانهای عدلی و قضائی در حل و رفع مشکلات مفید بوده است، دین مبین اسلام در مورد تدویر شورای برای در حل مشکلات تأکید نموده است.

رئیس محکمهٔ استیناف گفت که شورای هماهنگی که از نام اش پیدا است باید همه ارگان‌های عدلی و قضائی هم صدا بوده و مشکلات ذات البینی شان را در جلسه مطرح نمایند و به رفع آن پرداخته شود، مردم و جامعه نظارتگر اجراآت ارگان‌های عدلی و قضائی می‌باشند؛ سایر ادارات دولتی وظایف عام المنفعوی داشته، چشم امید مردم با ارگان عدلی و قضائی است؛ بنا بر این قابل یادآوری میدانیم در برابر قضایای جزائی، حقوقی و غیره اجراآت مربوط، طور اجراآت صورت گیرد که هیچ مجرم از چنگال قانون شریعت رها نشود و هیچ بی‌گناهی مجازات و زندانی نشود، دوسیه های حقوقی که اصحاب دعوی آن اسناد مثبت مدارحکم را عندالمحکمه تقدیم ننماید، مورد بررسی قرار نگیرد؛ تا باشد که از سرگردانی اصحاب دعوی جلوگیری صورت گیرد.

مولوی نورمحمد (نوری) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت کندز علاوه کرد که اگر اجراآت ارگان‌های عدلی و قضائی به صورت احسن انجام شود مردم و جامعه خوبتر میدانند که به مجرم جزاء داده میشود و حق به حقدار میرسد و از گراف جرایم و دعوی های بی‌مورد کاسته میشود.

متعاقباً مشترکین جلسه یکی پی دیگری به نوبهٔ شان جلسهٔ هماهنگی را در حل مشکلات ارگان‌های عدلی و قضائی مثبت و ارزنده دانسته، همکاری های شان را در تأمین عدالت و خدمت به مردم رنجدیدهٔ این ولایت مطرح فرمودند.

در ادامه روی آجندای از قبل ترتیب شده تمرکز صورت، گرفت مشکلات و چالش‌های قضایای جزائی، حقوقی، تجارتی؛ در جلسه از طرف رؤسای دواوین استیناف و سایر رؤسای ادارات مربوط مطرح گردید.

بعد از بحث و تبادل نظر راه حل مشکلات جستجو و به رفع آن تعهد نمودند، در پایان جلسه از طرف محترم (صهیب) صاحب معاون مقام ولایت کندز جمع بندی و نتیجه گیری گردید و همچون جلسات را در راه پیشبرد امورات محوله ارگان‌های عدلی و قضائی مفید دانسته و آماده گی شان را در راستای خدمت به خلق الله ابراز داشتند. جلسه به دعای خیر خاتمه یافت.

## از آغاز سال ١٤٤٤ هـ ق الی تاریخ ١٤٤٤/٤/٣٠ هـ ق در دیوان های محاکم شهری ولایت هرات ٨٦٠ قضیه حل و فصل شده است.

گزارش فعالیت و کارکردهای محکمهٔ شهری ولایت هرات از تاریخ ۱٤٤٤/۱/۱ الی ۱٤٤٤/٤/۳۰

توحید گزارش راپور دوسیه‌جات حقوقی، جزائی و تجارتی اجراء شدهٔ محکمهٔ شهری ولایت هرات به شرح ذیل مواصل ورزیده است:

**۱- دیوان جزاء شهری:** از ابتداء سال۱٤٤٤ هـ ق الی تاریخ ۱٤٤٤/٤/۳۰ هـ ق به تعداد (٥٥٨) دوسیه جات مختلف النوع غرض غور و بررسی مواصلت ورزیده که از آن جمله به تعداد (۲۳٥) دوسیه فیصله شده، به تعداد (۳٦) دوسیه قرار قضائی صادر گردیده و به تعداد (۸۹) دوسیه مکتوبی مسترد شده‌است و به تعداد (۱۹۸) دوسیه تحت بررسی قراردارد .

**۲- دیوان امنیت عامهٔ شهری:** از ابتداء سال ۱٤٤٤ هـ ق الی ۱٤٤٤/٤/۳۰ هـ ق به تعداد (۳۳٦) دوسیه جات مختلف النوع غرض غور و بررسی مواصلت ورزیده که از آن جمله به تعداد (۱۹) دوسیه فیصله شده، به تعداد (۲۱) دوسیه قرار قضائی صادر گردیده و به تعداد (۳۸) دوسیه مکتوبی مسترد شده‌است و به تعداد (۲٥۸) دوسیه تحت بررسی قرار دارد.

**۳- دیوان ترافیکی شهری:** از ابتداء سال ۱٤٤٤ هـ ق الی تاریخ ۱٤٤٤/٤/۳۰ هـ ق به تعداد (٥٤) دوسیه جات مختلف النوع غرض غور و بررسی مواصلت ورزیده که از آن جمله به تعداد (٤۲) دوسیه فیصله شده به تعداد (۸) دوسیه قرارقضائی صادرگردیده و به تعداد (٤) دوسیه تحت بررسی قراردارد.

**٤- دیوان تجارتی شهری:** از ابتداء سال۱٤٤٤ هـ ق الی تاریخ ۱٤٤٤/٤/۳۰ هـ ق به تعداد (۷٥٥) دوسیه جات مختلف النوع غرض غور و بررسی مواصلت ورزیده که از آن جمله به تعداد (۷۲) دوسیه فیصله شده ، و به تعداد (۱۰٤) دوسیه قرارقضائی صادرگردیده و به تعداد (٥۷) دوسیه مکتوبی مسترد شده است و به تعداد (٥۲۲) دوسیه تحت بررسی قراردارد .

**٥- دیوان مدنی شهری:** از ابتداء سال ۱٤٤٤ هـ ق الی تاریخ ۱٤٤٤/٤/۳۰ هـ ق به تعداد (۸۸۸) دوسیه جات مختلف النوع غرض غور و بررسی مواصلت ورزیده که از آن جمله به تعداد (۷٦) دوسیه فیصله شده، به تعداد (۲۷۹) دوسیه قرارقضائی صادرگردیده و به تعداد (۱٥۲) دوسیه مکتوبی مسترد شده است و به تعداد (۳۸۱) دوسیه تحت بررسی قراردارد.

## توحید گزارش راپور دوسیه جات و وثایق ریاست محکمهٔ مرافعه ولایت بلخ از تاریخ ١٤٤٤/٥/٩ هـ ق الی ١٤٤٤/٥/١٤ هـ ق شامل اجراات دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیه شهری، محکمه نظامی زون شمال و محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها به شرح ذیل تحریر است:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک هفته به تعداد( ۱۰٥ )دوسیه وارد محاکم گردیده و در حالیکه قبلاً نیزچندین دوسیه موجود بود. از آن جمله (۳۱) دوسیه مکتوبی، (۲۸) دوسیه قرار قضائی و (۲۰) دوسیه فیصلهٔ اجراآت گردیده و متباقی تحت کارمی‌باشد .

**در بخش جزائی:**

در جریان یک هفته به تعداد(۷۹) دوسیه وارده محاکم گردیده؛ درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (۲۷) دوسیه مکتوبی، (٤۰)دوسیه قرار قضائی و (۲۲)دوسیه فیصلهٔ اجراآت گردیده. و متباقی تحت کار می‌باشد.

**در بخش تجارتی:**

در جریان یک هفته به تعداد (٤٦) دوسیه در دیوان‌های مربوطه واردگردید؛ درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله (۲) دوسیه مکتوبی، (۱٥) دوسیه قرار قضائی و (٥) دوسیه فیصله اجراآت گردیده است.

و همچنان به تعداد (۳۳۱) قطعه وثایق مختلف النوع اجراء گردید و طبق فرمان عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله زعیم امارت اسلامی افغانستان قیمت آن اخذ نگردید.

## له ۱۴۴۴/۵/۱ هـ ق څخه تر ۱۴۴۴/۵/۱۵ هـ ق نېټې د (میدان وردګ) ولایت د محاکمو د دوسیو او وثایقو توحیدي راپور

په دغه راپور کې د (میدان وردګ) ولایت د مرافعه محکمې، د ښاري ابتدائیه محکمې او ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو د تېرو دوو اونیو حقوقي، جزائي او تجارتي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۶۳) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه ( ۵۱) مکتوبي، ( ۲۵) دوسیې قضائي قرار او ( ۲۶) دوسیې فیصله شوې، پاتې نورې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېرو دوو اونیو کې (۲۱) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې دي، په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې او تر دوران لاندې وې.

له دې جملې څخه ( ۱۸ ) مکتوبي، ( ۸ ) دوسیې قضائي قرار او ( ۱۴) دوسیې فیصله شوې او پاتې نورې دوسیې تر کار لاندې دي.

دغه راز په یاده موده کې (۶۲) بېلا بېل وثایق اجراء شوي چې د افغانستان اسلامي امارت د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمان په اساس یې قېمت نه دی اخیستل شوی.

## د قضائي پلټنې عمومي رياست د تفتيش مسلکي غړو د پکتيکا ولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدايت د قضائي پلټنې عمومي رياست د خپل تفتيشي پلان له مخې د ياد رياست د قضائي پلټونکو څخه جوړ درې کسيز پلاوي چې په ترکيب کې يې مولوي عبيدالله (جمالي)، مولوي عبدالوارث (سعيد) او مولوي عبدالبصير (غزنوي) شتون درلود.

ياد پلاوي د ١٤٤٤ هجري قمري کال د ربيع الثاني مياشتې په ٢٦ مه نېټه پکتيکا ولايت ته د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړنې او بررسۍ په موخه سفر وکړ.

د قضائي تفتيش دغه پلاوي لومړی د پکتيکا د مرافعه محکمې له رئيس سره وکتل، ورپسې يې د خپل کاري پلان له مخې د ياد ولايت د (۲۱) ولسواليو د ابتدائيه شرعي محاکمو، د پکتيکا له ښاري محاکمو له رياست او اړونده دېوانونو او د مرافعه محکمې له اړوند دېوانونو څخه جلا،جلا ليدنه وکړه.

دغه پلاوي د قضائي تفتيش بهير پر مهال د يادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هر اړخېزه پلټنه ترسره کړه، د محاکمو د قضائي غړو او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو په تړاو يې بشپړ معلومات ترلاسه کړل، د چارو د لا بهبود لپاره يې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

قضائي تفتيش دغه پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، د کار پر وړاندې شته خنډونه او لوژستيکي نيمګړتياوې له ځان سره ملاحظه کړې. په لومړي قدم کې يې د ښاري محکمې په دېوانونو کې شته ستونزې د ښاري محکمې له رئيس سره شريکې کړې، ورپسې يې د ستونزو د هواري او نيمګړتيا وو د اکمال په اړه د پکتيکا ولايت د مرافعه محکمې د رياست له مقام سره تفاهمي ناسته ترسره کړه او ټولې ستونزې يې په جلا، جلا توګه ورسره شريکې کړې.

دغه راز ياد پلاوي د بنديانو د وضعيت د څېړلو په موخه د پکتيکا ولايت له مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه او د ياد زندان اړوند نارينه او ښځينه بنديانو بشپړ شهرت او وضعيت يې له ځان سره ملاحظه او بيا يې له اړونده محاکمو سره شريک کړل.

د پلټنې دغه پلاوي د خپل سفر په پای کې د پکتيکا ولايت له محترم والي سره وکتل او د محاکمو د فعاليتونو د لاښه پرمختګ او د ځينو مربوطه ستونزو د حل په اړه يې د هغوی نظرونه واورېدل.

د قضائي تفتيش د پلټنې پلاوی د ١٤٤٤ هجري قمري کال د جمادی الاول مياشتې په ١٢ مه نېټه بېرته کابل ته راغی او د خپل سفر ټول راپور او معلومات يې د سترې محکمې له محترم مقام سره شريک کړل.

## هیئت متشکل از چند ارگان از زندان ولایت دایکندی بازدید به عمل آورد

بخاطری تطبیق هدایت شماره(۷۷۲/ج۱) مورخ ١٤٤٣/١١/١٣ مقام عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله در مورد بررسی وضعیت زندان ها؛ به روز یک شنبه مؤرخ۱۴۴۴/۵/۱۰ جلسهٔ تحت ریاست محترم الحاج شیخ الحدیث مولوی عبدالکریم (محمدی) رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت دایکندی دایر گردیده و هیئت متشکل از نماینده‌گان ریاست استخبارات ولایت دایکندی، قوماندانی امنیه و مدیریت محبس ولایت دایکندی غرض بررسی از وضعیت محبوسین و محجوزین از محبس ولایت دایکندی و مرکز اصلاح وتربیت اطفال دیدن نمود.

خوشبختانه در محبس ولایت دایکندی هیچ محبوس بدون سرنوشت تا اکنون موجود نبود.

هیئت مذکور همچنان در مورد محبوسین و محجوزین ولسوالی‌های نه گانه این ولایت بحث همه جانبه کرد که نظر به معلومات که از طرف رؤسای محاکم ابتدائیه ولسوالی‌ها، نمایندۀ محترم ریاست استخبارات، نمایندۀ محترم قوماندانی امنیه و مدیریت محترم محبس ولایت دایکندی تا اکنون در ولسوالی‌های این ولایت کدام محبوس وجود ندارد.

## د لغمان د استيناف رئيس د دغه ولايت له زندانه ليدنه وکړه

د لغمان ولايت د مرافعه محکمې عمومي رئيس محترم عبدالله (فرقاني) د جمادی الاول مياشتې په ١٠ مه نېټه د دغه ولايت له مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه.

د استيناف محکمې رئيس په دې ليدنه کې چې د لغمان ولايت د مرافعه محکمې د جزاء دېوان رئيس محترم عارف الله(عنايت) او د تحريراتو آمر شفيع الله يې ملتيا کوله لومړی د زندان له مسؤولينو سره ناسته ترسره کړه، هغوی يې خپلو وظايفو ته متوجه کړل او د زندانيانو سره يې په نيک چلند باندې ټينګار وکړ.

دغه راز يې د زندانيانو د طرزالعمل مطابق د هغوی چارې ارزيابې کړې، په ياد محبس کې چې (۱۷۴)نارينه، (۷) ښځينه او (۱۱) ماشومان موجود وو، له ټولو زندانيانو سره وکتل.

د لغمان ولايت د مرافعه محکمې د جزاء دېوان رئيس زندانيانو ته خپله عالمانه وينا واوروله وويل، د الله تعالی د رحمت څخه مه ناهيلي کيږئ او دا زندان ځای د درس، عبرت او توبې دی، نو ټول زندانيان بايد په اخلاص سره خپل رب ته توبه وباسئ او په راتلونکي کې له داسې کړنو څخه ځان وساتئ چې له امله يې زنداني شئ.

ورپسې د استيناف محکمې رئيس له هر زنداني څخه په جلا، جلا توګه شکايتونه واورېدل او د هغه زندانيانو يادانښت يې واخيست چې دوسيې يې ځنډېدلې دي.

دغه راز يې د زندان ساتونکو ته توصيه وکړه چې له زندانيانو سره شرعي او نرم چلند وکړي.

## بازدید مولوی عبدالخالق (محمدی ) رئیس عمومی محکمه استیناف از آمریت عمومی زندان ولایت بادغیس

حسب فرمان نمبر(۱۷۲)، مؤرخ ۱۴۴۴/۲/۲۶ هـ ق عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله و هدایت نمبر(۷۴۲) مؤرخ ۱۴۴۴/۵/۳ هـ ق ریاست محترم عمومی دارالانشاء مقام عالی ستره محکمهٔ امارت اسلامی افغانستان به روز سه شنبه تاریخ ۱۴۴۴/۵/۵ هـ ق محترم مولوی عبدالخالق (محمدی) رئیس عمومی محکمهٔ استیناف ولایت بادغیس با اشتراک هیئت معیتی شان (مولوی شراف الدین «شرافت»، مولوی صفی الله «حلیمی»، مولوی جیلان «جواد» رئیس و اعضای قضائی ریاست دیوان جزاء و محترم مولوی عبدالحمید «حمیدی»رئیس دیوان امنیت عامه استیناف) از آمریت زندان ولایت بادغیس در حالیکه محترم مولوی محمد الدین «محمدی» سرپرست آمریت محترم زندان ومنسوبین آمریت ارتباط محاکم زندان حضور داشتند از بخشهای ذکور و محجوزین دیدن نمودند.

طبق ارقام و معلومات داده‌گی ارتباط محاکم تعداد (۵۹) نفر محبوسین ذکور، تعداد (۱۲) نفر از طبقه اناثیه وتعداد (۶) نفر از اطفال زیر سن که جمعاً (۷۷) نفر می‌شوند در محبس بادغیس نگهداری میگردند.

در آغاز رئیس عمومی محکمهٔ استیناف در جمع که در داخل محوطه محبس محبوسین ذکور جمع شده بودند جلسه را بنام یاد خداوند عادل و (جل جلاله) و درود به حضرت محمد مصطفی(صلی الله علیه وسلم) صحبت های عالمانه نموده اند و به مشکلات همه زندانیان را شنید .

رئیس عمومی محکمهٔ استیناف پس از استماع سخنان و پیشنهادات محبوسین وعده سپرده که طبق طرزالعمل هیئت قضائی که اخیراً از مقام محترم عالی ستره محکمه امارت اسلامی افغانستان شرف وصول بخشیده و سعی میشود تا هیچکس بدون سرنوشت در زندان باقی نماند. سخنرانی و تشریف آوری رئیس استیناف از سوی محبوسین مورد استقبال صورت گرفت و اظهار خرسندی نموده‌اند. جلسه بادعائیه خاتمه یافت.

## بازدید رئیس محکمۀ مرافعه از زندان ولایت جوزجان

به تاریخ ١٤٤۴/۵/۳ هـ ق الحاج مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس عمومی محکمۀ مرافعه در حالیکه ایشان را محترمین هر یک مولوی عبدالولی «نقشبندی» رئیس دیوان جزاء مرافعه، مولوی محمد دین رئیس دیوان جزاء محکمه ابتدائیه شهری، مولوی محمد افضل رئیس دیوان امنیت عامۀ محکمه ابتدائیه شهری و صفی الله «واثق» آمر تحریرات محکمۀ مرافعه همراهی میکردند؛ عازم مدیریت محبس گرد تا زندانیان را از نزدیک ملاقات نموده و مشکلات شان را استماع نمایند.

ابتداء الحاج مفتی عبدالوهاب «زاهد» رئیس عمومی محکمۀ مرافعه ولایت تعداد محبوسین را از ملا صنعت الله «دیوبند» آمر عمومی زندان پرسش نمودکه تعداد آنها (۱۹۸) تن بوده؛ از جمله ۸ تن محجوزین و۲۷ تن طبقه اناث را تشکیل میدهند.

متعاقباً رئیس محکمۀ مرافعه در این بازدید یکایک مشکلات زندانیان را در چند کتگوری خاص از قبل تعیین شده که عبارت از (نوع جرم، تاریخ واقعه، سرنوشت محبوسین، مدت حبس و تصامیم محاکم مربوطه شان) پرسش و استماع نمود و به دیوانهای مربوطه هدایت داد هر چه زودتر به دوسیه‌های زندانیان رسیده‌گی شرعی و قانونی نماید.

رئیس محکمۀ استیناف هدایت داد تا تمام قضات محاکم که در دیوان‌های مربوطه خویش دوسیه‌های که محبوسین تحت توقیف داشته باشند به اسرع وقت و طبق متحدالمآل‌های مقام عالی ستره محکمه و اصولنامۀ اداری هرچه زودتر در قسمت تعیین سرنوشت آنها اقدام اصولی گردد.

## بازدید رئیس محکمۀ استیناف از محبس ولایت سمنگان

به تاریخ ١٤٤٤/٤/٢٨ هـ ق الحاج مولوی سعدالدین (سعید) رئیس محکمۀ استیناف در حالیکه مولوی عبدالاحد (فضلی) والی ولایت، رئیس محکمۀ ابتدائیه شهری ایبک، نمایندۀ قوماندانی امنیه و رئیس استخبارات ایشان را همرای میکردند، از محبس ولایت دیدن نموده‌اند.

رئیس محکمۀ استیناف بعد از احوال پرسی از تمام محبوسین برای آنها توصیۀ لازم نمود؛ بعداً والی ولایت سنخرانی و نظریات زندانیان را استماع نمود و وعده سپردکه جهت رفع مشکلات آنها از هیچگونه سعی و تلاش دریغ نخواهد ورزید و به مسؤولین زیربط هدایت لازم خواهند فرمود.

ثالثاً رؤسای که ایشان را همراهی میکردند هرکدام به نوبۀ خود با محبوسین احوال پرسی، توصیه‌ها و صحبت‌های لازم نمودند.

## بازدید رئیس محکمۀ مرافعه ولایت فاریاب از محبس مرکزی آن ولایت

به تاریخ ١٤٤٤/٥/٤ هـ ق محترم مولوی عبدالغنی «سعید» رئیس عمومی محکمۀ مرافعه ولایت فاریاب با همراهی مولوی نعمت الله «ذاکر» رئیس دیوان جزاء مرافعه ، مولوی عبدالوارث رئیس دیوان جزاء شهری، مفتی تاج الدین رئیس دیوان امنیت عامه شهری، مولوی سمندر «جوهری» نمایندۀ استخبارات، مفتی نصیراحمد نمایندۀ قوماندانی امنیۀ ولایت فاریاب و ملا امرالدین رئیس عمومی محبس ولایت طبق فرمان و هدایت مقام عالی ستره محکمۀ امارت اسلامی افغانستان بخاطر بررسی و ترتیب لیست زندانیان بی‌سرنوشت از محبس عمومی مرکزی ولایت فاریاب بازدید به عمل آورد.

رئیس محکمۀ استیناف و هیئت همراهش در این بازدید ابتداء با مسؤولین مربوطه از بخش‌های مختلف محبس دیدن نموده و برای مسؤولین ابراز داشت که متهمین که به زندان آورده می‌شوند باید به وقت و زمان معین دوسیه‌های نسبتی شان محول محاکم مربوطه شود و هیچ محبوس باید بی‌سرنوشت به محبس قرار نگیرد.

همچنان برخورد نیک و مناسب با محبوسین صورت گرفته و در قسمت اعاشه محبوسین مطابق لایحه مربوطه اجراآت صورت گیرد، بعد از سخنان علمانه شان برای مسؤولین به محبوسین نیز سخنرانی نموده و خطاب به محبوسین گفت که زندان بخاطر اصلاح شما بوده وکوشش نمائید بعد از رهائی به جامعه یک انسان خوب و مفید بوده و از منکرات دست بردار شوید.

همچنان شماری از محبوسین در صحبت‌های شان بعضی موارد و پیشنهادات که برای هیئت داشتند ابراز نمود و خواهان رسیده‌گی به مشکلات شان شدند.

در اخیر رئیس مرافعه غرض رسیده‌گی به پیشنهادات محبوسین هدایت لازم نمود و لیست محبوسین ترتیب کرد.

سرپرست مسوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لا إله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه خرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

# تعزیرات

## پروان ولایت کې ۲۷ مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

پنجشنبه (۱۴۴۴/۵/۱۴ هـ ق) نېټه د پروان په مرکز کې د یاد ولایت اړوند شرعي محاکمو په حکم، ۲۷ مجرمینو ته چې ۱۸ یې نارینه او ۹ ښځې وې د لواطت، فربېکارۍ، په ناحقه شاهدۍ، په وثایقو کې د جعلکارۍ، د k تابلیټو د پېر او پلور، فسق او فجور، له کوره د تېښتې، قطاع الطریقی، نامشروع اړیکو د جرمونو له امله تعزیري سزا ورکړل شوه.

یادو مجرمینو ته چې دوسیې یې د پروان ولایت د استیناف محکمې د جزاء دیوان، د استیناف محکمې د عامه امنیت دیوان، د ښاري محکمې د عامه امنیت دیوان، د ښاري محکمې د جزاء دیوان، د جبل السراج ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې، د سیاه ګرد ولسوالۍ ابتدائیه محکمې، د شینوارو ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې او د بګرام ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې لخوا په شرعي توګه څېړل شوې وې نن د پروان ولایت د محاکمو او نورو ولایتي ادارو د مسؤولینو او عامو هېوادوالو په حضور کې تعزیري سزا تطبیق شوه.

مجرمینو ته د تعزیري سزا د تطبیق په مناسبت ننني جوړ شوي مراسم د مسؤولینو تر عالمانه ویناوو او مجرمینو ته د تعزیري سزا له تطبیق وروسته د دعاء په وېلو سره پای ته ورسېدل.

د یادونې وړ ده چې یاد هر مجرم په خپلو جرمونو له هر ډول زور او جبر پرته محکمې ته اقرار کړی و او د محکمې لخوا په دغه ورکړل شوې سزا یې قناعت درلود.

## د ننګرهار ولایت د ګوشتې ولسوالۍ ابتدائیه شرعي محکمې درېیو مجرمینو ته تعزیري سزا تطبیق کړه

د ننګرهار ولایت د ګوشتې ولسوالۍ ابتدائیه شرعي محکمې په حکم په ۱۴۴۴/۵/۱۰ هـ ق نېټه د یوې مېرمنې په ګډون درېیو مجرمینو ته د نامشروع اړیکو په جرم تعزیري سزا (په درو وهل) تطبیق شوه.

د یادو مجرمینو دوسیې د ننګرهار ولایت د ابتدائیه شرعي محکمې لخوا څېړل شوې وې او مجرمینو د محکمې په حکم قناعت درلود.

مجرمینو ته د تعزیري سزا د تطبیق په مناسبت جوړه شوې غونډه کې د محکمې پر مسؤولینو سربېره د ګوشتې ولسوال، امنیه قوماندان، د امنیت مدیر، د امربالمعروف او نهی عن المنکر امر او محتسبینو، علماء کرامو، او عامو وګړو ګډون درلود.

## اجراء حکم تعزیری بالای شش مجرم از سوی ریاست عمومی محکمه استیناف ولایت سمنگان

در ولایت سمنگان به تاریخ ١٤٤٤/٥/٦ هـ ق بر اساس حکم شرعی محاکم آن ولایت به شمول سه زن به شش مجرم که مرتکب جرم خلوب با اجنبی و اجنبیه بودند غرض عبرت به خود آنها و جلوگیری از فساد اخلاقی در محضر عام جزای تعزیری تطبیق شد.

در جلسهٔ اجراء سزای تعزیری به مجرمین مذکور که در چمن قوماندانی، مرکز شهر ایبک ولایت راه اندازی شده بود، ابتداء الحاج مولوی سعدالدین «سعید» رئیس محکمهٔ استیناف در رابطه به عمل‌های غیر مشروع اسلامی و انسانی و عواقب ناگوار آن در جامعهٔ اسلامی صحبت‌های همه جانبه نمود.

بعداً مفتی محمد امین «ثاقب» رئیس دیوان جزاء محکمهٔ استیناف و مولوی گلاب الدین «حماس» رئیس دیوان جزاء محکمه ابتدائیهٔ شهری ایبک نص الحکم را قرائت وعملاً حکم قرائت شده را از سوی شخص توظیف شده بالای شش مجرم تطبیق شد.

## پکتیکا ولایت کې درېیو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

پکتیکا ولایت کې په ۱۴۴۴/۵/۳ هـ ق نېټه د شرعي ښاري ابتدائیه محکمې د جزاء دیوان په حکم د دغه ولایت مرکز ښرنې په ورزشي سټېډیوم کې درېیو مجرمینو ته د غلا په جرم تعزیري سزا ورکړل شوه.

مجرمینو ته د تعزیري سزا د تطبیق په مناسبت جوړو شوو دغه مراسمو کې د پکتیکا والي محترم عبدالله«مختار»، د پکتیکا د استیناف محکمې رئیس محترم مفتي امان الله«منقاد حقاني»، د ښاري محکمې رئیس محترم مولوي محمد اشرف «ابوخالد»، د جزاء دیوان رئیس محترم مولوي فال محمد«حاذق»، د استیناف او ښاري محاکمو قضاتو او عامو خلکو ګډون درلود.

د پکتیکا د استیناف محکمې رئیس محترم مفتي امان الله«منقاد حقاني» یادې ناستې ته د قضاء د اهمیت په هکله وویل، د اسلامي نظام لپاره قضاء د روح حیثیت لري.

دغه راز محترم مفتي منقاد حقاني د قضاء د یو شمېر حکمتونو او مسؤولیتونه (اظهارالعدل، دفع الظلم، انصاف المظلوم من الظالم، ایصال الحق الی المستحق و امربالمعروف و نهي عن المنکر) په اړه تفصیلي خبرې وکړې.

دغه راز د پکتیکا والي حاضرینو ته د اسلامي نظام د اهمیت او ارزښت په اړه وینا وکړه وویل، افغانستان کې حاکم اسلامي نظام د میلیونونو شهیدانو د قربانیو په برکت واک ته رسېدلی دی، او دا د شکر ځای دی چې نن شرعي محاکم د شریعت مطابق فیصلې کوي.

د پکتیکا والي په خپلو خبرو کې له محاکمو سره د ولایتي ادارو د بشپړې همکارۍ ډاډ ورکړ وویل، موږ به د محاکمو ملاتړ او همکاري کوو، ترڅو مو نظام شفاف او قوي شي.

## در ولایت غور به هفت مجرم سزای تعزیری تطبیق شد

به تاریخ ١٤٤٤/٥/١٠ هـ ق به اساس حکم و فیصلهٔ قطعی محاکم ولایت غور، حدود تعزیری بالای هفت تن از مجرمین که مرتکب جرم‌های روابط نامشروع، فساد اخلاقی، فرار از منزل و شراب نوشی بودند تطبیق شد.

در جلسه‌که به خاطری تطبیق و اجراء حدود تعزیری بالای این مجرمین تدویر یافته بود محترم مولوی سخی الرحمن (فایز) رئیس محکمهٔ استیناف ولایت غور، مقام های ملکی و نظامی این ولایت و باشنده‌گان کثیر این ولایت حضور داشتند.

از جمله مجرمین فوق الذکر چهار تن به جرم شراب نوشی ۳۹، ۳۹ دُره تعزیری، یک تن به جرم فرار از منزل ۳۹ دُره تعزیری، دو تن (یک مرد و یک زن) به جرم داشتن روابط نامشروع؛ برای مرد ۲۷ دُره، برای زن ۱۹ دُره تعزیری اجراء شد.

این در حالی است که باشنده‌گان ولایت غور از تطبیق جزاء تعزیری به مجرمین استقبال نمودند و این اقدام امارت اسلامی را بخاطر از بین بردن همه موارد که در تضاد با دین مبین اسلام باید به فال نیک گرفته و از رهبری امارت اسلامی افغانستان بالخصوص محاکم خواستند که حدود شرعی را بالای سایر مجرمین نیز تطبیق نماید؛ تا دیگر کسی نتواند به اعمال خلاف شرعی روی آورد.

## پکتیا ولایت کې دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د پکتیا ولایت د استیناف محکمې لخوا په (١٤٤٤/٤/٢٨هـ ق) نېټه د موټر د غلا او اختطاف په جرمونو دوو مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه.

د یادو مجرمینو له ډلې چې قضیې یې د ښاري ابتدائیه محکمې د مدني دیوان لخوا په شرعي توګه څېړل شوې وې، یو مجرم د اختطاف په جرم او دویم د موټر د غلا په جرم پرتفیذي بند سربېره په درو وهلو محکوم کړي و.

یادو مجرمینو ته د محاکمو او ولایتي ادارو پر مسؤولینو سربېره د عامو هېوادوالو په موجودیت کې تعزیري سزا ورکړل شوه تر څو راتلونکي کې د دوی لپاره درس او د نورو هېوادوالو لپاره عبرت شي.

د یادونې وړ ده چې یادو دواړو مجرمینو له هر ډول زور او جبر پرته د محکمې پر وړاندې په خپلو جرمونو اقرار کړی و او د محکمې په پرېکړو یې قناعت درلود.

## د سترې محکمې متحدالمآلونه...

### د متحدالمآل ګڼه: ۳۵
### نېټه: ۱۴۴۴/۵/۲ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم مورخ ۱۴۴۳/۱۰/۱۹ هـ ق په اساس هدایت کړی وو چې ستره محکمه دې د تیري اداري نهائي او قطعي شوي غیر تطبیق شده فیصلو لپاره طرزالعمل جوړ کړي.

د پورته ذکر شوي هدایت مطابق، سترې محکمې د تیري اداري نهائي او قطعي شوي غیر تطبیق شده فیصلو لپاره طرزالعمل جوړ کړی چې د مشرتابه محترم عالي مقام د حکم /مورخ ذوالحجة الحرام/۱٤٤۳هـ ق په اساس تائید شو او د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د متحدالمآل نمبر (۱۳) مورخ ۱۴۴۴/۲/۲هـ ق په توسط ټولو محکمو ته واستول شو.

د مشرتابه محترم عالي مقام په پورته ذکر شوي حکم کې (د تیري اداري نهائي او قطعي غیر تطبیق شده فیصلې) لیکل شوي اوس پوښتنه دا ده: چې د تیري اداري نهائي او قطعي غیر تطبیق شده فیصلو څخه مراد کومې فیصلې دي؟ په دې اړه د سترې محکمې عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۴/۱/۲هـ ق کې د تصویب نمبر (۱) د یولسمي پریکړې په اساس هدایت کړی وو چې خلاصه یې داسې ده: (د سترې محکمې د مدني دیوان رئیس محترم مفتي قیام الدین صاحب او د سترې محکمې د دارالافتاء رئیس محترم شیخ عزیزالله المظهري صاحب دې د تیري اداري نهائي او قطعي فیصلو په باره کې معلومات راټول کړي)، په همدې اساس ذکر شوي علماء کرامو، د تیري اداري د نهائي او قطعي فیصلو په باره کې معلومات راټول کړي وو چې یاد معلومات د سترې محکمې د عالي شورا په مجلس مورخ ۱۴۴۴/۳/۹هـ ق مصادف ۱۴۰۱/۷/۱۳هـ ش کې مطرح شوه او د تصویب نمبر(۷) مورخ ۱۴۴۴/۳/۹هـ ق د دوهمې پریکړې په اساس، عالي شورا داسې هدایت وکړ: ((د تیري اداري نهائي او قطعي فیصلو څخه مراد هغه نهائي او قطعي فیصلې دي چې د تیري اداري د اصولو پر بناء نهائي یا قطعي بلل سوي وي.))

بناءً د سترې محکمې عالي شورا د پورته ذکر شوي تصویب دوهمه پریکړه د دې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شوه تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

### د متحدالمآل ګڼه: ۳٦
### نېټه: ۱۴۴۴/۵/۹ هـ ق

د افغانستان اسلامي امارت د تمیز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو قدرمنو منسوبینو ته!

السلام علیکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام د دفتر د ګڼه (۲۸۸) مورخ ۱۴۴۴/۴/۱۵هـ ق مکتوب په توسط د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ صاحب حفظه الله فرمان رارسیدلی چې په هغه کې د سترې محکمې محترم مقام ته هدایت شوی تر څو ټولې محکمې د لاندې هدایاتو په عملي کولو مکلفې کړي:

((۱ ـ ابتدائیه محکمې دې دوسیې په یوه نیمه میاشت کې څېړي، که کوم قاضي معقول او شرعي عذر ولري او په یاده موده کې اجراآت نه شي کولای، خپل عذر به سترې محکمې ته وړاندې کوي.

۲ ـ مرافعه محکمې دې دوسیې د شلو ورځو څخه تر یوې میاشتې موده کې څېړي، که کوم قاضي معقول او شرعي عذر ولري او په یاده موده کې اجراآت نه شي کولای، خپل عذر به سترې محکمې ته وړاندې کوي.

۳ ـ د تمیز ریاستونه دې دوسیې د شلو ورځو څخه تر یوې میاشتې موده کې څېړي، که کوم رئیس معقول او شرعي عذر ولري او په یاده موده کې اجراآت نه شي کولای، خپل عذر به سترې محکمې ته وړاندې کوي.

۴ ـ ټول قاضیان دې د حدود او قصاص دوسیې په عاجله توګه څېړي، یادو قضیو ته د لومړیتوب حق ورکړئ!

۵ ـ ټول قاضیان دې هغه جنائي قضیې چې بندیان لري، په عاجله توګه څېړي.))

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام پورته ذکر شوی فرمان مو د سترې محکمې محترم عالي مقام ته پیشنهاد کړ، عالي مقام یې په اړه داسې هدایت وکړ:

((د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام په فرمان کې د (۱) څخه تر (۵) شمېرې پورې هدایات چې د محاکمو د اجراآتو په باره کې دي، ټولو محکمو ته دې په متحدالمآل شکل واستول شي.

ټولې محکمې مکلفې دي چې د خپلو کارونو په ترسره کولو کې د مشرتابه محترم عالي مقام ذکر شوي هدایات په جدي ډول په نظر کې ونیسي او عملي دې کړي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه محترم عالي مقام هدایات د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت مطابق ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې مربوط ریاستونو، تمیزونو، دیوانونو، مرافعه او ابتدائیه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړنې تر سره شي.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publication@supremecourt.gov.af

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې:
۰۲۰۲۳۰۰۳٦۱
۰۲۰۲۳۰۲۲٦۳